Vatandar وطندار
سیاسی فرهنگی ادبی فلسفی

اسدالله زمری

# د اشغال نوی تعریف

« نن که یو ځوک ترهر نامه لاندې چې وي سینه و وهي چې زه دافغانستان دخپلواکۍ دپاره جنګیږم، دین ګتم اویا نیواک اوبلواک نه منم اوزه يې هم ووایم اویايې ورسره ومنم مابه خپل دریغ اورسالت ته څومره زیان رسولی وي؟! داځکه چه زه پدې پوهیږم چه داجګړه نه دخپلواکۍ دپاره ده، نه ددین دپاره ده اونه هم دامریکا اوناتو پرضد ده، بلکه داجګړه په ټوله مانا دافغانستان پرضد ده چه دغه ده درې لسیزې کیږي روانه ده،ځوک په کې دمجاهد اوځوک په کې دطالب په نامه نقش لوبوي. افغانستان



دخپل لرغوني تاریخ په اوږدو کې کله هم دنن په شان داسې مهم نړیوال دریځ نه درلود، له نیکه مرغه افغانستان پیاوړی نړیوال ملاتړ له ځانه سره لري اوداهغه څه دي چې افغانان ورته اړتیا لري. زه خپلو ټولو ګرانو اودرنو لیکوالانو، شاعرانو، سیاستدانانو، قومي اوروحاني مشرانو ته په ډیر درناوي سره وړاندیز کوم چې دافغانستان په ګټو فکر وکړي، استعمار، اشغال، یرغل، خپلواکۍ اوبلواکۍ ته په یوویشتمې پیړی کې نوی تعریف پیدا کړی اودي پوښتنې ته ځواب ورکړي،. »

دا پورتنی متن د ښاغلي ک.کمال د هغې لیکنې یوه برخه ده چې د «ددوه یاران او یو کمال» تر سرلیک لاندی د وطن د پیام په ویبپاڼې کې خپره شوی ده ،خو سره له دې چې ډیر مهمه مساءله یی مطرح کړي ،خو په خواشینی سره چې هیڅ چا هم د هغه وړاندیز ته پاملرنه ونه کړه ،سره له دې چې ما د ښاغلی لیکوال په نامه د ویبپاڼې له لارې یو ایمیل واستوه او ورخخه مې غوښتنه وکړه چې ددی موضوع څیړنه پخپله په یوې توضیح سره پیل کړي خو نه پوهیږم چې ولې مې تراوسه انتظار کومه پایله نه درلوده؛

فکر کوم چې  په دې موضع د پو هیدلو لیوالان کم نه دي نود ښاغلي کمال د وړاندیز په تاییدلوسره یو ځل بیا له درنوحقوقپوهانو، لیکوالانو، شاعرانو، سیاستدانانو، قومي اوروحاني مشرانو څخه  په ډیر درناوی هیله کوم چې په دی هکله خپلې نظریی،لیکنې اوتحلیلونه له مونږ څخه  ونه سپموي   .په درناوی

**رفقا، دوستان عزیزتارنمای وطندار !  لطفاً نظرات، پیشنهادات، انتقادات، مقاله ها، نوشته ها، مضامین و مطالب علمی و تحلیلی خود را جهتِ نشر به ادرس پوست الکترونیکی سایت بفرستید**

admin@vatandar.at

**مدیر مسوول : دیپلوم انجنیرعمر محسن زاده**

**صاحب امتیاز : انجنیرنجیب یوسفی**

**کلیه ی حقوق بر اساس قوانین کپی رایت  محفوظ و متعلق به «وطندار» می باشد**

**برگشت به صفحه نخست**

http://www.vatandar.at/

**بقیه گزیده های مقالات‌اسدالله زمری**

http://www.vatandar.at/indexdeezmaray2.html